# مطبوعاتي اعلاميه

## د پاکستان پوځي او سیاسي رهبري د امریکایي اجنډا پر بنسټ له سیلابونو څخه له هند سره د سوداګرۍ د عادي کولو لپاره کار اخلي

په پاکستان کې شدیدو سیلابونو د غلو، مېوو او ترکاریو فصلونه له منځه وړي او د خوراکي توکو بیې په بې ساري ډول لوړې شوې دي. دا د دولت مسوولیت دی چې د اړتیا وړ خوراکي توکو عرضه او تقاضا وڅېړي او د اړتیا په صورت کې یې د بیو د ثبات په موخه وارد کړي. د پاکستان سیاسي او نظامي رهبري په دې لټه کې ده، چې په سیمه کې د امریکا پلان پر مخ بوځي او په دې وروستیو کې یې اعلان وکړ، چې دوی اوس له هند سره پر سوداګرۍ فکر کوي او دا خپله له بشري ناورین څخه ناوړه ګټه اخیستل دي.

ایا د پاکستان خوراکي اړتیا وې یوازې هند پوره کولای شي؟ ایا له ایران، افغانستان او نورو اسلامي هېوادونو څخه خوراکي توکي نه شي راوړل کېدلای؟ د کوم مجبوریت له مخې د پاکستان د اړتیاو د پوره کولو لپاره لومړی انتخاب تل هند ټاکل کیږي؟ دا هماغه هند دی چې د ۲۰۱۹م کال د اګست په ۵مه یې اشغال شوی کشمیر په ځان پورې وتاړه او په دې ډول یې د هغه ځای او په هند کې د ننه مسلمانانو ته سزا ورکړه. تر ټولو دردونکې دا چې د هند د واکمن ګوند یو مهم غړي په پرله پسې ډول زموږ د خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم سپکاوی وکړ. ایا له دې هر څه سره، بیا هم باید موږ د پیازو او رومیانو لپاره هندو دولت ته سر ټیټ کړو؟

که نن خلافت تاسیس وای او له اندونیزیا تر مراکشه اسلامي نړۍ د یوه دولت او یوه خلیفه تر چتر لاندې راټوله وای، نو له شک پرته چې نن به موږ له هر ډول طبیعي ناورینونو سره د مقابلې لپاره پراخې سرچینې لرلای. د کفارو، هند، امریکا، اروپا او ملګرو ملتونو مرستو ته به مو اړتیا نه وه. خلافت په ورته حالاتو کې له ځنډ پرته د یوې سیمې زیانونه د بلې سیمې د سرچینو له لارې جبرانوي.کله چې پر مدینه وچکالي راغله، دویم خلیفه عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د عمرو بن العاص رضی الله تعالی عنه په مشرۍ له مصر څخه د خوراکي توکو کاروانونه ترتیب او په ډېرې چټکۍ سره یې د یاد ناورین مخه ونیوله.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** د ډیموکراسۍ په ګډون د انسان په لاس تر هر جوړ شوی نظام لاندې رهبري هېڅکله ستاسو پر دین او اړتیاو پام نه شي کولای. دا ډول رهبري تل د استعماري قوتونو د ګټو ساتنه کوي. حاکمان په دا ډول ستونزمنو حالاتو کې په جګړه کې له امریکا سره د مرستې او یا د FATF او IMF د اوامرو په پلي کولو کې د سرچینو د کمښت چیغې نه وهي، بلکې ټول دولتي نظام او سرچینې یې خدمت ته وړاندې کوي، خو کله چې زموږ خلک د سیلابونو او خوراکي توکو له کمښت سره مخ شي، نو په دې وخت کې بیا د عذرنو اوږد لیست وړاندې کړي.

اوسنی سیلاب او د خوراکي توکو ناورین د نبوت پر منهج د راشده خلافت د سملاسي بیا تاسیس جدي اړتیا په ګوته کوي. خلافت به د خپل تاسیس په څو دقیقو کې ټول دولتي سیستمونه د خپلو مخلصو رضاکارانو له لارې چې له وړاندې د همدې لپاره کار کوي، بسیج کړي، تر څو په ډېرې چټکۍ سره د خلکو امنیت او هوساینه تامین شي.

**اې د پاکستان په وسله وال پوځ کې مخلصو مسلمانانو!** تاسو هغه تر ټولو ستره ورتيا لرئ، چې سمدلاسه زموږ د خلکو ستونزو او ننګونو ته د پای ټکی ایښودلی شي. خبردار اوسئ چې الله سبحانه وتعالی به د قیامت په ورځ له تاسو څخه د هغه په اړه سخته پوښتنه وکړي. که غواړئ چې د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې له دغې ملامتیا څخه ځان خلاص کړئ، نو باید نن ورځ حزب التحریر ته د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره نصرت ورکړئ. یوازې همدا کار په دې شرط زموږ ځورېدلي خلک هوسا کولای شي، چې د خپلو دښمنانو پرمخ دروازې کلکې وتړئ. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**[وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ]**

**ژباړه:** *«که دوی له تاسو څخه په دین کې مرسته وغواړي، نو د هغوی مرسته کول پر تاسو فرض دي.»*
[انفال: ۷۲]

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د صفر ۵مه**

**۲۰۲۲م کال، د سپټمبر ۱**

**د صدور ګڼه: ۰۵ / ۱۴۴۱**